۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر ایندۀ کشور است

# معارف

اوونیزه
هفته نامه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۴۵ ماه قوس سال ۱۳۹۷

سرمقاله:

## اراده استوار میتواند ما را به هدف برساند

یک سال تعلیمی دیگر به پایان رسید که با ختم آن در ذهن هر شاگرد و استاد با مسوولیت این حرف تداعی میگردد که یک سال را با تمام سختی ها کمی ها وکاستی هایش سپری نمودم حال باید به سال آینده آماده گی های لازم را داشته باشم. بیایید که برای سال آینده برنامه و هدف مشخص خود را داشته باشیم. از سال گذشته باید تجربه گرفت چیزی که باعث کندی در درس ها و برنامه های درسی ما شده بود جلوگیری کرده و هرآنچه که باعث پیشرفت در درس های ما گردیده تاکید کرده ادامه اش بدهیم یکی از راز های موفقیت ما داشتن هدف است بدون شک که هدف کلید تمام مشکلات است که ما به آن روبرو هستیم وقتی ما بخود هدف انتخاب میکنیم و برای بدست آوردن آن کوشش میکنیم خود موفقیتی است که ما به آن دست یافته ایم هدف چیست و داشتن آن چه ضرورتی دارد؟ یک هدف چه خصوصیاتی باید داشته باشد؟ آیا هدف باید کمی باشد یا کیفی؟ چگونه می‌توان هدف را انتخاب کرد؟ بعد از آن‌که هدف خود را انتخاب کردیم، در ارتباط با آن لازم است چه کاری انجام دهیم؟ در هدف وضعیتی است که می‌خواهیم در آینده داشته باشیم. اگر خود نتوانیم وضعیت‌مان را در آینده تعیین کنیم، ناچار محیط پیرامون‌مان، وضعیت را به ما تحمیل می‌کند. آنچه که محیط بر ما حکم می‌کند شاید... ۲مخ

## پکتیا ته د پوهنې د سرپرست وزیر بریالی سفر




د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلی ډاکټر محمد میرویس بلخي د پکتیا ولایت د پوهنې وضعیت د ارزونې او یو شمېر تعلیمي پروژو د پیل په موخه دغه ولایت ته ولاړ.

د پوهنې سرپرست وزیر د خپل دې یو ورځني سفر په ترڅ کې د پکتیا له سیمه ییزو چارواکو، د پوهنې له مسوولینو، ښوونکو، زده کوونکو او قومي مشرانو سره ولیدل او د یاد ولایت د پوهنې روان بهیر بېلابېل اړخونه یې له نږدې وارزول.

دغه سفر په لړ کې د پوهنې وزارت د مشرتابه له لوري دغې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د نجونو د ۱۱ ښوونځیو د نویو ودانیو د جوړېدو چارې پیل شوې. دغې ترڅنګ ښاغلي بلخي د ګردېز په حلیمه خزان عالي لیسه کې د کلنیو آزموینو بهیر له نږدې وڅاره او د یاد ولایت له اسلامي دارالعلوم څخه یې هم لیدنه وکړه.

ښاغلي بلخي د پکتیا له قومي مشرانو او معارف دوسته خلکو سره په یوه جلا لیدنه کې د ښوونکو د معیشتي... ۲مخ

## دیدار سرپرست وزارت معارف با نماینده گان بانک جهانی (WB) در افغانستان



پروژه اقرأ و تلاش برای اجرای هر چه بهتر آن محور اصلی دیدار دکتر "محمد میرویس بلخی" سرپرست وزارت معارف با "یاسویکو ماتسودا" مسوول برنامۀ توسعۀ و مدیریت بانک جهانی در افغانستان بود.

نماینده گان بانک جهانی در افغانستان آخرین گزارش‌های خود را در مورد اجرای پروژه " اقرأ" همراه با دکتر بلخی، و رهبری وزارت معارف شریک ساختند.

دکتر "محمد میرویس بلخی" سرپرست وزارت معارف در این جلسه ضمن قدردانی از حمایت استراتژیک بانک جهانی (WB) از تعلیم و تربیه افغانستان خواستار تلاش هر دو طرف در جهت اجرای بهتر پروژه اقراء شد.

رهبری وزارت معارف در صحبت های شان با نماینده گان بانک جهانی، از تلاش تیم دولتی برای اجرای گام به گام موفق این پروژه خبر داد.

دکتر بلخی همچنین از بانک جهانی خواست تا در یک همکاری مشترک با ارائه گزارش‌های مستمر و دقیق از روند پروژه، مردم و رسانه‌ها را در جریان تلاش‌های وزارت معارف و همکاران بین‌المللی در راستای تقویت و بهبود معارف قرار دهند... ص۲

## لغمان کې د نجونو زده کوونکو ترمنځ د ساینسي تجربو نندارتون جوړ شو




د لغمان ولایت مرکز اړوند د نجونو د درېو ښوونځیو زده کوونکو ترمنځ د ساینسي مضامینو د علمي تجربو نندارتون جوړ شو.

دغه نندارتون د قلعه شیخانو، مستوري او علي خیلو ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ د قلعه شیخانو لیسې په انګړ کې د داریې موسسې او ساینس مدیریت لخوا جوړ شوی دی. په یاد نندارتون کې د نجونو زده کوونکو په لاس بېلابیل جوړ شوي توکي ننداریې ته وړاندې شوي دي.

د لغمان د پوهنې رئیس عبدالله حمیدي د نندارتون د جوړېدو له امله له یادې موسسې مننه وکړه او دا ډول نندارتونونه یې د زده کوونکو د ذهني او فکري ودې لپاره مهم وبلل.

د داریې موسسې څه موده وړاندې د لغمان د مرکز اړوند د هلکانو ښوونځیو ترمنځ هم ورته نندارتون جوړ کړی و، چې ښې پایلې یې لرلې.

د یو بل خبر له مخې د H.H.R.D موسسې له لوري ۲۵۰ یتیمو زده کوونکو ته نغدي مرسته ورکړل شوه.

په دې مرسته کې هر زده کوونکي ته ۳ زره افغانۍ نغدي مرسته ورکړل شوه.

دغه راز په لغمان کې د یونیسف موسسې له لوري د کلیوالي ښوونځیو ۶۰ تنو ښوونکو ته میتودیک او علمي ورکشاپ جوړ شو.

په دغه ورکشاپ کې ۸ ښځینه ښوونکې هم ګډون لري، چې د بېلابیلو ښوونیزو مسایلو په تړاو به روزنه ورکړل شي.

## ډاکټر بلخي د "پغمان قشنګ" د نجونو عالي لیسې نوې ودانۍ پرانیسته



## ورکشاپ سه روزه پلان سالانه وزارت معارف و یونیسف برگزار شد



## نصاب تعلیمی رکن اساسی پیشرفت در نظام آموزشی پنداشته میشود



## سنګ تهداب یک باب مکتب در ولایت کاپیسا گذاشته شد

سنگ تهداب نسوان سنجن ولسوالی حصه اول کوهستان ولایت کاپیسا از سوی عزیزالرحمن معاون والی آن ولایت درحالی که عبدالعلیم عیاررئیس معارف، خواجه منصور صدیقی رئیس شهر سازی ولایت و جمع کثیری از استادان و اهالی منطقه نیز حضور داشتند، گذاشته شد.

این مکتب به هزینه ۲۶ میلیون و ۴۰۰ هزار افغانی درساحه دوجریب زمین دردوطبقه بصورت پخته و اساسی اعمار می گردد.

عبدالعلیم عیار رئیس معارف ولایت کاپیسا حین تهداب گذاری گفت: متوسطه نسوان سنجن تا اکنون فاقد تعمیر بوده وشاگردان دریکی از مکاتب هم جوار مصروف آموزش اند که با اعمار تعمیر جدید فضای مصؤن تعلیمی برای ۵۰۰ تن شاگرد مهیا میگردد.

همچنان موصوف از همکاری وزارت محترم شهر سازی ووکلای محترم که دراین راستا معارف این ولایت را یاری رسانیده اند اظهار قدر دانی نمود.

## سرمقاله:

# اراده استوارمیتواند...

با ماسازگار نبوده و برای ما خوش آیندهم نخواهد بود. پس چه بهتر که خود، هدف مطلوب‌مان را معلوم کنیم و به سمتش در حرکت باشیم. اما قبل از انتخاب هدف دقیق شویم که از هدف خویش یک شناخت کامل داشته باشیم که شناخت هدف در کسب موفقیت ما نقش اساسی دارد شناخت و انتخاب هدف، یکی از اساسی ترین موضوعات زندگی انسان است. اگر انسان هیچ شناختی از هدف خود در زنده گی نداشته باشد، آن را پوچ و بی معنا خواهد یافت. همه فعالیت های آگاهانه و ناآگاهانه انسان زمانی مفهوم خواهد داشت که هدف نهایی اش در زنده گی روشن باشد.با اندکی دقت می توان فهمید هدف که ما برای زنده گی خود در نظر می گیریم زنده گی ما را بصورت مثبت تحت تأثیر قرار می دهد.به تعبیری دیگر، به زنده گی ما جهت و معنا می بخشد. اگر انسان ها در زنده گی خود روش های متفاوتی دارند به این دلیل است که هدف های مختلفی را دنبال می کنند. هر قدر این هدف ها با ارزش تر و والاتر باشد، به همان اندازه زنده گی انسان از ارزش و کیفیت عالی تری بهره مند خواهد شد. بنابراین، سعادت انسان در گرو شناخت هدف و انتخاب آن است. چه بسا افرادی هستند که سال ها در این دنیا زندگی می کنند و به علت سرگرم شدن به کارهای روزمره و به خصوص غرق شدن در ظواهر زنده گی و لذت های مادی و آرامش دروغین، هرگز به اساسی ترین مسئله زنده گی یعنی شناخت و انتخاب هدف نمی اندیشند.

شاگردان عزیز و استادان گرامی! سال که گذشت باید برای ما درس زنده گی باشد و سال که در پیش رو داریم هدف اساسی با خیال و فکر جدید به آینده بنگریم ازهمین حالا خطوط اساسی زنده گی مان را روشن بسازیم در راه بر آورده شدن آن از هر وقت زیاتر کوشش جدو جهد کنیم رهبری وزارت معارف هم در سال جدید تعلیمی با برنامه ها و پروگرام های که سبب بهبود و انکشاف نظام آموزشی کشور میگردد در پهلوی شما استادان و شاگردان عزیز قرار دارد و سعی دارد تا نظام آموزشی کشور را بهبود بخشیده و در راستای تحقق ارمان های والای کاروان بزرگ معارف شکوفا نسبت به هر وقت دیگر به زحمات خستگی ناپذیر خویش ادامه دهد. شاهد این مدعای ما سفر های دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف به ولایات کشور در جهت بهبود نظام آموزشی کشور است. که این خود یک اقدام بی پیشنه در

بقیه‌صفحه‌اول

## پکتیا ته د پوهنې د ...

ژوند د ښه والي او د هغوی د ستونزو د حل په برخه کې د پوهنې وزارت د مهمو پروګرامونه په اړه مالومات ورکړل. نوموړي د ښوونکو د معاشونو لوړېدل او د هغوی لپاره د سرپناه برابرول د دې وزارت له مهمو لومړیتوبونو یاد کړل او د هغو پر ژر پلي کېدو یې ټینګار وکړ.
د پوهنې وزارت مشرتابه د ښوونکو لپاره د پور ورکړې صندوق پرانیستل او ولسمشرۍ مانۍ ته د ښوونکو د سرپناه د استطاعت وړ طرحې وړاندې کول د ښوونکو د ستونزو د حل په برخه کې د پوهنې وزارت هغه دوه مهم ګامونه یاد کړل، چې د ټول هېواد د ښوونکو لپاره اخیستل شوي دي.
ښاغلي بلخي یادونه وکړه، چې د ښوونکو لپاره د سرپناه د برابرېدو طرحه یې ولسمشر ته استولې، چې پر بنسټ به یې د ښوونکو ښارګوټي او کورنه د اوږد مهاله پورونو له لارې د ښار جوړونې وزارت له لوري جوړ شي. د پوهنې سرپرست وزیر د تعلیمي نصاب د بیا کتنې او ارزونې خبر هم ورکړ او یادونه یې وکړه، چې د ملي وحدت، ملت جوړونې، جندر او یو شمېر نورو مهمو مسایلو ته به پکې جدي پاملرنه وشي.د ښاغلي بلخي په خبره، چې په راتلونکي ښوونیز کال کې به ۴۹،۷ میلیون ټوکه درسي کتابونه چاپ او په ټول هېواد کې به پر زده کوونکو ووېشل شي. د یادو کتابونو له ډلې ۱۲ میلیونه هغه یې د کورنیو مطبوعو د پیاوړتیا په موخه په کور دننه چاپېږي.د پوهنې سرپرست وزیر په یاده غونډه کې خلکو ته د وینا پرمهال له هغوی وغوښتل، چې په دې ولایت کې د پوهنې وزارت د پروګرامونو عملي کېدو ته زمینه برابره کړي او د یوې ښې راتلونکې په موخه خپل اولادونه په ځانګړي ډول نجونې ښوونځیو ته واستوي.
د پکتیا د پوهنې رییس کوچي ځاځي په دغه غونډه کې د خبرو پرمهال د ولسونو له همکارۍ یادونه وکړه زیاته یې کړه، روان کال د پکتیا د خلکو له لوري له معارف سره ۲۴ میلیونه افغانۍ ولسي مرسته شوې، چې په بېلابېلو برخو کې لګول شوې ده.
پکتیا ته د پوهنې وزارت د مشرتابه د سفر په ترځ کې ددې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د ۱۱ بابه ښوونځیو د بنسټ ډبرې هم کېښودل شوې.
ښاغلي بلخي د یادو ښوونځیو د بنسټ ډبرې ایښودو په تړاو جوړو شویو مراسمو کې وویل، چې ددغو ښوونځیو پر جوړېدو شاوخوا ۱۸۰ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د پوهنې وزارت له پرمختیایي بودیجې ورکول کېږي.
د پوهنې وزارت سرپرست د پکتیا له اسلامي دارالعلوم څخه هم لیدنه وکړه او د عصري زده کړو ترڅنګ یې د دیني زده کړو پر اهمیت خورا ټینګار وکړ. ښاغلي بلخي د یاد دارالعلوم زده کوونکو ته په خپلو خبرو کې یادونه وکړه، چې پوهنې وزارت د عصري زده کړو په خوا کې د دیني زده کړو ودې او پیاوړتیا ته جدي پاملرنه کوي.
د پکتیا په اسلامي دارالعلوم کې د څلورو ولایتونو (خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر) ۱۴۰۰ نجونې او هلکان پر دیني زده کړو بوخت دي.
په دې لیدنه کې د یاد دارالعلوم ښوونکو او زده کوونکو خپلې ستونزې د وزارت له مشرتابه سره شریکې کړې، چې د حل په موخه یې مسوولو چارواکو ته لازمې سپارښتنې وشوې.

بقیه‌صفحه‌اول

## دیدار سرپرست وزارت...

یاسویکو ماتسودا مسوول برنامه توسعه و مدیریت بانک جهانی در افغانستان نیز در این دیدار ضمن قدردانی از تلاش رهبری وزارت معارف در جهت بهبود تعلیم و تربیه در افغانستان، چالش‌های پیش رو و نکات مثبت پروژه اقرأ را اعلام کرد.در خلال این جلسه همچنین دو طرف در ارتباط با پروژه‌های دیگر که پیش از این همکار بوده‌اند، و در قسمت پرداخت معاشات معلمین به شکل الکترونیک صحبت و نقاط ضعف و قوت را برای مرفوع ساختن مشکلات و پیشرفت این پروژه به بحث گذاشتند.گفتنی است که در قالب پروژه اقرأ بانک جهانی مبلغ ۲۹۸ میلیون دالر را به منظور تقویت نظام آموزشی، حمایت از تعلیم دانش آموزان دختر و بهبود شرایط یادگیری سکتور معارف افغانستان اختصاص داده است.

## تلاش وزارت معارف جهت فراهم سازی زمینه ساخت مکتب در "شهرک امارات" کابل

دکتر "محمد میرویس بلخی" سرپرست وزارت معارف با شورای اهالی شهرک "شیخ خلیفه بن زایدآل نهیان" مشهور به "شهرک امارات" دیدار نمودند سرپرست وزارت معارف گفتند: ساخت مکاتب یکی از اولویت ها و برنامه‌های مهم ما بوده و ما تلاش میکنیم در مناطقی که مکاتب درآنجاوجود ندارد و یا اینکه کم است برای تاسیس و اعمار تعمیر اولویت دهیم . فضل الله محمدی رئیس شورای اهالی شهرک امارات در این دیدار از نبود مکتب در این شهرک یاد کرده از وزارت معارف خواست تا در حصه رفع مشکل این شهرک اقدام نمایند سرپرست وزارت معارف وعده سپرد که به زودی به حل مشکل این شهرک رسید هگی خواهد شد.

# د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې د معارف پر کلیدي رول ټینګار وشو

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیوالې ورځې نمانځغونډه د ښاغلي بلخي د خشونت په له منځه وړلو کې د پوهنې وزارت د عملي



پوهنې د سرپرست وزیر ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي، د کابینې د یو شمېر غړو او د ښځو حقوقو د فعالینو په ګډون جوړه او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې د معارف پر کلیدي رول ټینګار وشو .
په دغه غونډه کې چې د پوهنې وزارت په کوربه توب د ساینس مرکز د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه د پوهنې وزارت سرپرست د پوهنې په لسیزه کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې ددې وزارت له محتوایي او عملي پروګرامونو خبر ورکړ .
ښاغلي بلخي له تاوتریخوالي سره د مبارزې تر ټولو مهمه لاره د افغاني ټولنې باسواده کول وبلل او یادونه یې وکړه، چې د هېواد په تعلیمي نصاب کې به د جندر مساوات شامل او په ټولنه کې د ښځو مقام او ارزښت به د یو فکر په توګه د افغانستان په درسي کتابونو کې بنسټیز شي.
د پوهنې وزارت سرپرست د هېواد د فعالو مېرمنو په نوم د نجونو د ټولو ښوونځیو او د مېرمنو د تعلیمي مرکزونو نومول په ټولنه کې د ښځو د نوم او مقام د لوړېدو او د هغوی پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلوپه برخه کې د پوهنې وزارت یو له مهمو محتوایي پروګرامونو څخه یاد کړ .
پروګرامونو یادونه هم وکړه او مېرمنو ته یې د پوهنې وزارت د ۵۰ سلنه بستونو د ځانګړي کېدو خبر ورکړ. نوموړي زیاته کړه، د پوهنې وزارت اړوند ۱۳ مرکزي بستونو او د هېواد د ټولو ولایتونو د ښوونکو د روزنې ریاستونه مېرمنو ته ځانګړي شوي دي.
د هېواد اجراییه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله یادې غونډې ته په یو پیغام کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې د ملي وحدت حکومت د هلو ځلو یادونه کړه او د ښځو پر وړاندې د تبعیضي قوانینو او تقنیني اسنادو د سمون، د نجونو او مېرمنو د زده کړو پر وړاندې د خنډونو د له منځه وړلو او د هېواد په دفاعي او امنیتي سکتور کې د ښځو له فعالې ونډې اخیستو خبر ور کړ .
د هېواد لومړۍ مېرمنې رولا بي بي ګل غني هم د خپل پیغام په ترځ کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې د معارف پر رول ټینګار وکړ زیاته یې کړه، که چېرې غواړو چې اولادونه مو په یو آرام چاپېریال کې زده کړې وکړي نو باید اجازه ورنکړو چې له ښځو په ځانګړي ډول ښځینه ښوونکو سره تاوتریخوالی وشي .
د غونډې په پای کې د ښوونې او روزنې په برخه کې ۱۰ فعالو مېرمنو ته تندیسونه ورکړل شول.

## د لوګر ۷۵ ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې ورکشاپ پیل شو

د لوګر د مرکز او ولسوالیو ښوونځیو ۷۵ ښوونکو ته، چې له ډلې یې ۴۰ تنه ښځینه ښوونکې دي د وړتیا لوړونې لس ورځنی ورکشاپ پیل شو. یاد ورکشاپ د پوهنې ریاست په همکارۍ د آی، آر، سي موسسې له لوري جوړ شوی دی.
د ورکشاپ ګډونوالو ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه د ښوونځیو د زده کړې کیفیت د لوړوالي او اغیزمن تدریس په برخه کې روزنه ورکول کېږي .د لوګر د پوهنې رئیس عبدالوکیل کلیوال د یاد ورکشاپ د پیل پر مهال وویل، چې د دغه ورکشاپ د جوړولو موخه د ښوونکو وړتیا لوړول دي .
هغه زیاته کړه، چې د خپل کلني کاري پلان له مخې د پوهنې کارکوونکو او ښوونکو د وړتیاوو لوړولو او روزنې ته یې خاصه پاملرنه کړې ده .
د لوګر د پوهنې ریاست د خپل کاري پلان له مخې، د روان کال له پیله تراوسه تر ۱۰۰۰ ډېرو ښوونکو ته د ظرفیت لوړولو ورکشاپونه جوړ کړي دي.
یاد ورکشاپونه د پوهنې وزارت او د پوهنې د مرستندویه موسسو له خوا جوړ شوي، چې د ښوونکو د وړتیاوو په لوړولو کې ګټور تمام شوي دي .

## غزل

چې وختونه یو په بل پسې سبا شي
حقایق د زمانې به برملا شي

چاچې کړي وي خیانت د قام په حق کې
دا حتمي ده چې عالم کې به رسوا شي

د رښتیا کاروان په مخه ځي تیریږي
د خائن به دې کاروان نه لار جلا شي

بې له شکه په قوي تکل او عزم
دا تیارې د ظلمتونو به رڼا شي

دریابونه هاند ځپاند شي د بزمونو
چې عزمونه ارادې یې بې ریا شي

ځو په مخه په سراب نه ایساریږو
خیانت کار به مخ تورن نن یا سباشي

افغاني که وروړګلوي موخداى نصیب کړه
د دې خاورې خائنان به رو سیا شي

ارسالی: نجیبه

## غزل

ژوند هغه دی چې پخوا کې د جانان وي
بادشاهي ده که په ژوند کې د انسان وي
که د ژوند مل په خبرو پوه دا نا وي
نو دا ژوند به د الله بیا لوی احسان وي
که نادان د چا جانان شي کور یې وران دی
بیا به ټول عمر په غم او په ګریان وي
که دوښمن د چا هوښیار وي بختور دی
خو که دوست دې شو نادان زړګی پریشان وي
بس ټول ژوند به تیره وې په جهنم کې
که په ژوند کې دې نادان عمری جانان وي

رالیږونکی: حسیبا

## درد

ما د خپل ځان کیسه کوله، ځومره درد وه پکې
چې مې ستا چیغه اوریدله، ځومره درد وه پکې

دلته شمیره د پرهرونو له حسابه وتې
له هر پرهر څړیکه وتله، ځومره درد وه پکې

د ویر ماتم د کاروانونو لار سوره ده په مونږ
لار د خلاصون مو لټوله، ځومره درد وه پکې

دسیند په شور کې پروني خوندونه کله شته دی
نن یې بیا مړه څپه وهله، ځومره درد وه پکې

دلته هر چا کمیس اغوستی د دوزخ د لمبو
ما د هر تن لمبه شمیرله، ځومره درد وه پکې

زه د ژوند مات تصویر ته ناست وم چې پیوند یې کړمه
ټوټه ټوټه مې ټولوله، ځومره درد وه پکې

په لپو لپو دې د خپل ولس د حق لپاره
(وارثه ) تادعا کوله، ځومره درد وه پکې

رالیږونکی: عبدالواسع

## فواید درمانی گلپی

مصرف گلپی احتمال مبتلا شدن به امراض سرطان‌ها به خصوص سرطان‌های پروستات، سینه، روده، تخمدان و مثانه را کاهش می‌دهد. محققان کانادایی در بررسی‌های خود دریافتند مصرف نصف پیمانه گلپی در روز، احتمال مبتلا به سرطان پروستات را تا ۵۲ درصد کاهش می‌دهد.

مصرف گلپی با زردچوبه در سلامتی مردان موثر است و همچنان گلپی با زردچوبه و اندازه روغن زیتون بسیار یک غذای مفید و خوش طعم و هم به وقایه امراض گونا گون کمک میکند کشور هند که در رژیم غذایی خود از گیاهان وسبزیجات استفاده مینمایند مرگ میر و امراض آنها نسبت به کشور های اروپایی که زیادتر از گوشت و پروتین باب استفاده میکنند کمتر گفته شده است . گل گلپی گیاهی است که زیاد تر در شمال شرق مدیترانه و در حال حاضر در بیشتر کشور ها کشت میشود گلپی را میتوان خام ، پخته ویا به صورت ترشی مصرف کرد هر چه گل گپی مصرف آن خام ویا به صورت ترشی یا کمی جوشانده شده بهتر است چون به هضم بهتر غذااز اهمیت اساسی بر خورداراست .

ارسالی: عصمت الله تنی

## تاریخچه قصر چهلستون

قصر چهلستون درشرق دندچهاردهی در محوطه سرسبزدرمیان باغ بزرگ بالای تپه موقعیت دارد . نخستین بار در آواخر قرن ۱۸ میلادی درزمان شاه زمان سدوزایی از سنگ مرمر، خشت و آهن توسط معمار های المانی ساخته شد در این قصرشاهان زیادی آمدند و رفتند از امیر عبدالرحمان خان ،حبیب الله خان و امان الله خان گرفته تا نادر خان ، ظاهر شاه و داود خان این قصر زمانی به حیث مهمان خانه دولتی مورد استفاده قرارمیگرفت که اکثراً شاهان و مهمانان که به کابل می آمدند در همین قصر اقامت داشتند و در این آواخر صدمات زیادی به قصر وارد گردیده که کار باز سازی دوباره آن آغاز گردیده است این قصر یکی از بزرگترین بنای تاریخی در کابل است که توسط بنیادفرهنگی آغاخان و کمک مالی کشور آلمان دو باره ساخته میشود .

ارسالی: عابده

## ۱۰ نکته جالب در مورد مغز انسان

- مغز انسان تنها عضو بدن است که با وجود این که مرکزفرماندهی سیستم عصبی بدن محسوب می شود، خودش عصب ندارد ! بنابراین مغزحس درد ندارد !

۲- مغز انسان بزرگ ترین مصرف کننده انرژی بدن بوده و با این که فقط ۲ درصد از وزن بدن مربوط به آن است ،اما ۲۰ درصد ازکل انرژی مصرفی بدن رابه خود اختصاص می دهد.این انرژی برای نگهداری حجرات عصبی وانتقال سیگنال های آن ضروری وحیاتی است .

۳- تعداد حجرات عصبی مغزیک انسان درحدود ۱۰۰ میلیارد بوده که تقریباً ۱۵ برابرتعداد کل انسان های روی کره زمین است ! این تعداد بالا توانایی پردازشی مغز را افزایش می دهد.

۴- مغز انسان چاق ترین عضو بدن است، که حدود ۶۰ درصدچربی دارد؛این میزان بالا ترین غلظت چربی موجود دربدن یک فرد سالم است،همچنین درحدود۷۵ درصد ازجرم مغزرا آب تشکیل می دهد که برای تنظیم فعالیت های مختلف آن ضروری است .

۵- (تنوکورتکس )بخشی ازمغزانسان است ،که مسوولیت سخن گفتن وهوشیاری رابرعهده دارد؛ این قسمت ۷۶ درصد ازمغز را تشکیل می دهد، که درمقایسه با سایر جانداران بیشترین مقدار است .

۶- عده های اعتقاد دارند، که انسان ها کمتر از ۱۰ درصد مغزرا مورد استفاده قرارمیدهند! این عقیده درست نیست،چون هریک ازبخش های مغزعملکرد مشخص دارد.

۷- معلوم شده است که درمراحل اولیه تشکیل جنین انسان، حجرات عصبی مغز با سرعت ۲۵۰ هزاربار در دقیقه تقسیم و تکثیرمی شوند!

۸- درهردقیقه درحدود ۱۵ الی ۲۰ درصد ازخون خروجی قلب (۷۵۰ میلی لیتر)، به مغزاختصاص دارد !

۹- انرژی مصرف شده توسط مغز، درحدود ۲۵ وات بوده که برای روشن کردن یک لامپ کافی است !

۱۰- مغزانسان آن طورهم که تصورمیشود کامل نیست! نمونه های زیاد ازانسان های دیده می شوند، که مغزآنهاهمه چیزرا دوراز واقعیت درک می کند!

ارسالی: آصفی

## حمد شریف

چې هم عشق او هم جانان د چا پخوا وي
نو سم دم به په جهان کې شاهین شاه وي

د جنت حورې غلمان مې په کار نه دي
ستا رضا به ربه زما مدام رضا وي

که ستا مینه مې نصیب شوه لویه خدایه
په دارینو کې نصیب به مې ښکلا وي

دا ښکلا به له دارینو وي بهتره
که مې عشق او جانان دواړه پاک الله وي

د دنیا ټول نعمتونه ستا عطا ده
زه محتاج یم او ستا نوم تل کبریا وي

رالیږونکی: حمیده

## امتحان

در عشق آدمی به وفا امتحان شود
هرچه خدای خواسته باشد همان شود
دنیا ندارد ارزش یک تار زُلف یار
در شام تار ماه رُخش گر عیان شود
ای عاشقان به یار رسیدن محال نیست
گر آنچه دردل است به حقیقت بیان شود
بی خوابی شبانه بود خود بنای عشق
دلدار گر به عاشق خود مهربان شود
رنج فراق و حسرت دیدار هم خوش است
دل گر به بوسه ء زلبش کامران شود
از اشک چشم و خون د ل وکوشش زیاد
گنج مُراد صاعقه بر آسمان شود
خال لبش که نکته احساس آدمیست
بر آن بود که عقل ازآن نکته دان شود

ارسالی: شمس الحق

Weekly Marif Newspaper
Established 2002, Issue No 245, Month – December 2018
Ministry of Education Cultural and Social Issue

# ډاکټر بلخي د "پغمان قشنگ" د نجونو عالي لیسې نوې ودانۍ پرانېستله

د "پغمان قشنګ" د نجونو عالي لیسې نوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترځ کې




د پوهنې د سرپرست وزیر ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي او یو شمېر نورو چارواکو لخوا پرانېستل شوه.
په دې اړه د کابل په پغمان ولسوالۍ کې جوړې شوې غونډې ته د پوهنې سرپرست وزیر ډاکټر محمد میرویس بلخي وویل، چې دغه ودانۍ د ماشومانو لپاره د آلمان کمېټې له لوري د ۳۰۰ زرو امریکايي ډالرو په ارزښت جوړه شوې ده .
ښاغلي بلخي له نړیوالو همکارانو د مننې ترڅنګ ټینګار وکړ، چې یوازې ښوونځیو ته د ودانیو جوړول د معارف د ودې او پیاوړتیا سبب نه کیږي، بلکې د خلکو تر مینځ باید د علم او پوهن پالنې روحیه پیاوړې شي.
نوموړي د پغمان ولسوالۍ د پوهنې اړوندو ستونزو له هغې ډلې د حق الزحمه یې ښوونکو، د ښوونځیو د احاطو او نورو مربوطو ستونزو د حل ژمنه وکړه .
د ویلو وړ ده، چې د پغمان قشنګ د نجونو لیسې نوې درې پوړیزه ودانۍ ۱۸ درسي ټولګي، ۵ اداري خونې او نورې اړونده ټولې ښوونیزې آسانتیاوې لري، چې له جوړېدو او پرانېستو سره یې شاوخوا ۲ زره زده کوونکو ته د زده کړو خوندي درسي چاپېریال برابر شوی.

# ارتقای ظرفیت ۳۰۰ تن معلم به کمک موسسه تیکا

دفتر هماهنگی و همکاری کشور ترکیه در افغانستان(تیکا) به ۳۰۰ تن از معلمان شرکت کننده در پروگرام ارتقای ظرفیت که از سوی این موسسه برگزار شده بود، شهادتنامه اعطا کرد.
در این برنامه که در خانه معلم(یکی از بخش‌های وزارت معارف) برگزار شده بود، دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف از کمک های همکاران بین المللی که در جهت بهبود معارف در افغانستان کار میکنند قدردانی بعمل آورده خواستارتقویت هرچه بیشتراین روندگردید .
"علی اورگون ازترک" رئیس دفتر هماهنگی و همکاری ترکیه در افغانستان(تیکا) نیز در این برنامه از افزایش همکاری‌های این موسسه با




معارف افغانستان در سال آینده میلادی خبر داد.
گفتنی است که اشتراک کننده گان دریک دوره دو ماهه که از طبقه اناث بودند موفق به اخذ شهادتنامه در پروگرام ارتقای ظرفیت شدند.
در مجموع تاکنون چهار هزار تن از معلمان در رشته‌های کیمیا، فزیک، بیولوژی و ریاضی در این پروگرام ارتقای ظرفیت شرکت کرده‌اند.

# یکاولنگ کې د دوه بابه ښوونځیو نوې ودانۍ پرانېستل شوې

د بامیانو ولایت په یکاولنګ ولسوالۍ کې د "شرشري" او "کنک" ښوونځیو



نوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترځ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې .
د یادو ښوونځیو د پرانېستې په تړاو جوړو شویو مراسمو کې د بامیانو پوهنې رییس محمد ایوب آروین وویل، چې د شرشري ښوونځي ته د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت له دولتي بودیجې او د کنک ښوونځي ته بیا د سویډن کمېټې په مالي مرسته د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت نوې ودانۍ جوړې شوې دي . د بامیانو والي محمد طاهر زهیر هم د یادو ښوونځیو د پرانېستې مراسمو کې په دې ولایت کې د تعلیمي فرصتونو پر پراختیا او د ښوونې او روزنې پر کیفیت ټینګار وکړ. د یادولو وړ ده، چې روان کاَل په بامیانو کې ۱۲ بنسټیزې ساختماني پروژې او ۶۹ د ښوونځیو د ودانیو ترمیماتي پروژې بشپړې شوي دي. دغه راز د دو ښوونځیو د جوړېدو او د ۲۴ نورو د احاطو، تشنابونو او د نورو اړتیا وړ توکو د پوره کېدو پروژې تر تدارکاتي مراحلو لاندې دي.

# ورکشاپ سه روزه پلان سالانه وزارت معارف و یونیسف برگزار شد

ورکشاپ مرور پلان سالانه وزارت معارف و یونیسف در هماهنگی با ریاست‌های معارف ولایات جهت بهبود خدمات تعلیمی و برنامه‌ریزی برای کار مشترک در سال ۲۰۱۹ میلادی برگزار



شد.در این ورکشاپ سه روزه که در کلوپ وزارت معارف تدویرگردیده بود، وزارت معارف و یونیسف پلان کاری سال ۲۰۱۸ را از ابعاد مختلف از جمله میزان تطبیق پلان‌ها، و ادامه پلان کاری سال آینده میلادی را به بحث و بررسی گرفتند.در این برنامه دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف غیر مرکزی ساختن امورات رسمی را از اولویت‌های این وزارت در سال جدید تعلیمی و همچنین دهه معارف توصیف نموده و بر گسترش معارف و بهبود خدمات تعلیمی در ولایات تاکید کرد.رهبری وزارت معارف از افزایش صلاحیت‌ها و در عین حال افزایش میزان پاسخگویی ریاست‌های معارف ولایات خبر داد.دکتر بلخی هدف خود را از سفرهای ولایتی آسیب شناسی دقیق از معارف ولایات عنوان کرد و بر ضرورت حمایت‌های مردمی از معارف تاکید ورزید.ادیل خضر نماینده یونیسف در افغانستان، تعلیم و تربیه اطفال را از آجندای مهم و اساسی یونیسف در افغانستان عنوان کرد. نماینده یونیسف در افغانستان تعلیم دختران را یکی از موضوعات مهم توصیف نموده که باعث تغییر بزرگ در جامعه میگردد موصوف تاکید کرد که در سال ۲۰۱۹ میلادی کار بیشتری درین زمینه انجام شود.
در ادامه این ورکشاپ سه روزه، نمایندگان یونیسف و روسای معارف ولایات به بررسی میزان تطبیق پلان‌های سال ۲۰۱۸ و بحث در رابطه با پلان کاری مشترک در سال ۲۰۱۹ پرداختند.

# نصاب تعلیمی رکن اساسی پیشرفت در نظام آموزشی پنداشته میشود



وزارت معارف در دیدار با معین، رئیس و کارمندان بخش نصاب این وزارت تاکید کرد که برای تضمین آینده تعلیم و تربیه باید تمرکز بیشتری روی تجدید نصاب شود . در این دیدار که در خانه معلم (یکی از بخش‌های وزات معارف) شهر کابل صورت گرفت؛ دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف ، نصاب را از اولویت‌های اصلی بخش تاکید ورزید.سرپرست وزارت معارف از ادامه رایزنی و تلاش‌های صورت گرفته در جهت افزایش امتیازات بخش نصاب نیز خبر داده گفتند: با افزایش صلاحیت روسای معارف ولایات، خدمات و فعالیت فراگیر در سراسر کشور در حوزه تعلیم و تربیه انجام خواهد پذیرفت.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد گل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین: بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت